سر یال نمبر: 384

بسم الله الرحمن الرحيم

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# ټانک؛ د امنيتي ځواکونو پراخ عمليات 8 تنه ترهګر نيول شوي

د استخباراتي معلوماتو پر اساس امنيتي ځواکونو د ټانک په مضافاتو کيري واروکي کې 8 تنه ترهګر نيولي او وسلې، مهمات او لاسي بمونه يې ترلاسه کړي دي. د نيول شويو ترهګرو په نښه کولو سره د ترهګرې ډلې د مشر له کور څخه خوذکاره ماينونه هم ترلاسه شوي دي.







**له نيول شويو ترهګرو څخه د تفتيش پر مهال په همدې کلي کې د ټي ټي پي د مشر طالب جان په کور کې د ماينونو شتون څرګند شو. چې پر وخت امنيتي ځواکونو په يو ښه پلان شوي چاپه کې عمليات ترسره کړل او هغه ماينونه يې شنډ کړل چې د امنيتي ځواکونو په کاروانونو د بريد لپاره چمتو شوي وو.**

په جنوبي وزيرستان، ټانک او ډيره اسماعيل خان کې امنيتي ځواکونو د خوارجو او د هغوی د سهولتکارانو په پر ضد ګيره سخته کړې او د هغوی د وژنې او نيولو لړۍ دوام لري. خلک او مشران د دغو اغيزمنو عملياتو له امله امنيتي ځواکونو ته ستاينه کوي.